# د نړيوالې جنايي محکمې په اړه پوهاوي

# د نړیوالې جنایي محکمې په اړه پوهاوي

# فهرست


۱. نړیواله جنایی محکمه په یو نظر کي ۳

۲. د نړیوالې جنایی محکمې جوړښت ۹

۳. د نړیوالې جنایی محکمې تر قضایي واک لاندې جرمونه ۱۳

۴. نړواله جنایی محکمه څرنګه فعالیت کوي؟ ۱۷

ا. مراجعات، تحلیلونه او څیړني ۱۷

ب. نیوني ۲۰

ج. د تورنو خلکو حقونه ۲۴

د. له محاکمې څخه مخکي د تورونو تائید ۲۷

ه. محاکمه ۳۰

و. فیصله او مجازات ۳۴

ز. استیناف او بیاکتنه ۳۴

۵. د متضررینو ګډون ۳۸

۶. د شاهدانو ساتنه ۴۲

۷. د نړیوالې جنایی محکمې په اړه نور معلومات ۴۶


*"(...) د نړیوالې ټولنې د اندیښنې وړ ترټولو سنګین جرمونه باید په مجموع کې له مجازاتو پرته پاتې نه شي (...)"*
د نړیوالې جنایي محکمې د روم د اساسنامې مقدمه

د ۱۹۹۸ د جولای په ۱۷مه نېټه، ۱۲۰ هیوادونو د روم اساسنامه ومنل - چې د نړیوالې جنایي محکمې د روم د اساسنامې په نوم پېژندل کیږي ("د روم اساسنامه") - چې نړیواله جنایي محکمه يې تاسیس کړه. د انسان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره، هیوادونو پریکړه وکړل ترڅو د هغوي پر خاوره او یا يې هم د وګړو لخوا د ترسره شوي سنګینو جرمونو د مرتکبینو د عدلي تعقیب لپاره د یوې دایمي او نړیوالې محکمی قضایی واک د ۲۰۰۲ د جولای په لومړي نیټی د روم د اساسنامې له نافذیدو وروسته ومني.

نړیواله جنایي محکمه د ملي محاکمو ځای نه نیسي. د روم د اساسنامې مطابق، دا د دولت دنده ده ترڅو د نړیوالو جرمونو د مسئولینو په اړه خپل جنایی قضایي واک وکاروي. نړیواله جنایي محکمه یوائې هغه مهال مداخله کولی شي چې دولت وړتیا ونلري او یا هم په واقعي ډول لیوالتیا ونه لري ترڅو څیړنې ترسره کړي او مرتکبین ترعدلي تعقیب لاندې راولي.

د نړیوالې جنایي محکمې لومړنی ماموریت دا دی ترڅو په عمومي ډول د نړیوالې ټولنې د اندیښنې وړ د ډیرو سنګینو جرمونو د مرتکبینو د معافیت په له مینځه وړلو کې مرسته وکړي، او پدی ډول د داسې جرمونو په مخنیوي کې ونډه واخلي.

باخبره عامه وګړي کولی شي ترڅو د نړیوال عدالت لپاره د اوږودمهالې درناوی د تضمین او د هغه په تطبیق کې ونډه واخلي. د دغه کتاب موخه د محکمې په اړه پوښتنو ته د ځوابونو د ورکولو په وسیله د نړیوالې جنایی محکمې په اړه د ښه پوهاوي ورده ده.



Netherlands
Cour
Pénale
Internationale
International
Criminal
Court
The Hague
Netherlands

# ۱. نړيواله جنايی محکمه په يو نظر کې

## ۱. نړيوال جنايی محکمه څه ده؟

نړيواله جنايی محکمه ("ای سي سي" يا "محکمه") يوه دايمي نړيواله محکمه ده چې په عمومي ډول د نړيوالې ټولنې د انديښنې وړد سنګينو جرمونو، لکه د نسل وژنې جرم، د بشريت ضد جرموونو، جنګي جرمونو او د يرغل په جرم د تورنو خلکو څخه د تحقيق، عدلي تعقيب او محاکمې لپاره تاسيس شوی.

## ۲. ولې نړيواله جنايی محکمه تاسيس شوه؟

يو شمير ترټولو فجيع جرمونه په هغو نښتو کې ترسره شول چې شلمه پيړۍ يې پيل کړه. له بده مرغه، د نړيوال قانون څخه ډيری سرغړونې پرته له مجازاتو پاتې دي. د نورمبرګ او ټوکيو محاکمې له دوهمې نړيوالې جګړې وروسته تاسيس شول. په ۱۹۴۸ کې، کله چې د نسل وژنې د جرم د مخنيوي او مجازاتو کنوانسيون ومنل شوه، د ملګرو ملتونو عمومي غونډې د داسې ظلمونو سره د معاملې لپاره چې په هغه ورستيو کې ترسره شوي وو، د يوې نړيوالې جنايی محکمې اړتيا وليدله.

د نړيوال جنايی عدالت د يو نظام مفکوره د سړې جګړې د پای څخه وروسته د دوهم ځل لپاره راپورته شوه. که څه هم، پداسې حال کې چې د نړيوالې جنايی محکمې د اساسنامې په اړه مذاکرات روان وو، نړۍ د يوګوسلاويا او روانډا په خاورو کې د فجيعو جرمونو د ارتکاب شاهد وه. د دغو ظلمونو په ځواب کې، د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د هر يو وضيعت لپاره يوه موقته محکمه تاسيس کړه.

پرته له شکه، دا پيښې د هغه کانفرانس د راغوښتلو په پريکړې باندې د پام وړ اغيزه وکړه کوم چې په ۱۹۹۸ کال په روم کې نړيواله جنايی محکمه تاسيس کړه.

## ۳. د روم اساسنامه څه ده؟

په ۱۷ جولای ۱۹۹۸ کې، د ۱۶۰ هيوادونو يو کانفرانس، د تړون پر بنسټ لومړنۍ دايمي نړيواله محکمه تاسيس کړه. هغه تړون چې پدغه کانفرانس کې ومنل شوه د نړيوالې جنايی محکمې د روم د اساسنامې په نوم پيژندل کيږي. دا اساسنامه د نورو موضوعاتو سربيره، د نړيوالې جنايی محکمې تر قضايي واک لاندې جرمونه، د طرزالعمل قواعد او د محکمې سره د دولتونو د همکارۍ ميکانيزمونه تشريح کوي. هغو هيوادونو چې دا قواعد منلي، د غړو هيوادونو په نامه ياديږي او د غړو هيوادونو په غونډه کې ترې استازيتوب کيږي.

د غړو هيوادونو غونډه، چې لږترلږه په کال کې يوځل ناسته کوي، د محکمې د ادارې لپاره عمومي کړنلارې ټاکي او د فعاليتونو بيا کتنه يې ترسره کوي. د دغو ناستو په لړ کې، غړي هيوادونه د هغو کاري ګروپونو د فعاليتونو چې د هيوادونو لخوا تاسيس شوي او همداراز د نړيوالې جنايی محکمې اړوند د نورو موضوعاتو بياکتنه ترسره کوي، د نوي پروژو په هکله بحث کوي او د نړيوالې جنايی محکمې کلنی بودجه منظوروي.

## ۴. څومره هيوادونو د روم اساسنامه تصويب کړې؟

له ۱۲۰ څخه ډير هيوادونه د روم د اساسنامې غړي هيوادونه دي، چې د ټولو سيمو څخه استازيتوب کوي: افريقا، د اسيا آرامه بحيره، ختيځه اروپا، لاتين امريکا او کرابين او همداراز لويديځه اروپا او شمالي امريکا.

## ۵. د محکمې مقر په کوم ځای کې دی؟

د محکمې مقر د هالند د هاګ په ښار کې دی. د روم اساسنامه اجازه ورکوي ترڅو هر کله چې قاضیان مناسبه وګڼي، محکمه په بل ځای کې ناسته ترسره کړي. محکمې همداراز په هغو سیمو کې چې څیړنې ترسره کوي دفترونه پرانستي دي.

## ۶. محکمه څرنګه تمویلیږي؟

محکمه د غړو هیوادونو د ونډو او همداراز د حکومتونو، نړیوالو سازمانونو، اشخاصو، شرکتونو او نورو ادارو د رضاکارانه ونډو پوسیله تمولیږي.

## ۷. نړیواله جنایی محکمه د نورو محکمو سره څه توپیر لري؟

نړیواله جنایی محکمه یوه خپلواکه محکمه ده، پداسې حال کې چې د پخوانې یوګوسلاویا او روانډا لپاره موقتې محکمې ، او همداراز پدې ډول نورې محکمې چې د ملګرو ملتونو په چوکاټ کې د ځانګړو وضیعتونو سره د معامله کولو لپاره تاسیس شوي یوازې محدود ماموریت او قضایي واک لري. نړیواله جنایی محکمه چې اشخاص محاکمه کوي همداراز د عدالت د نړیوالې محکمې سره توپیر لري کوم چې د دولتونو ترمنځ د شخړو د حل لپاره د ملګرو ملتونو عمده قضایي اُرګان دی. د پخوانې یوګوسلاویا لپاره موقته محکمه او د عدالت نړیواله محکمه هم د هاګ په ښار کې مقرونه لري.

## ۸. ایا نړیواله جنایی محکمه د ملګرو ملتونو یو دفتر او یا هم اداره ده؟

نه. نړیواله جنایی محکمه یوه خپلواکه اداره ده چې دنده یې ترخپل قضایي واک لاندې د جرمونو په اړه د اشخاصو محاکمه کول دی ، پرته له دې چې د ملګرو ملتونو لخوا کوم ځانګړې حکم ته اړتیا وي. د ۲۰۰۴ کال د اکتوبر په ۴مه نیټه، ، نړیواله جنایی محکمه او ملګرو ملتونو د خپلو بنسټیزو اړیکو د تنظیم په اړه یو تړون لاسلیک کړل.

## ۹. ایا نړیواله جنایی محکمه د ملي محاکمو ځای نیسي؟

نه. نړیواله جنایی محکمه د جنایی عدالت د ملي نظامونو ځای نه نیسي، بلکه، هغوي بشپړوي. هغه کولی شي ترڅو څیړنې ترسره کړي، او که چیرې لازمه وي، اشخاص یواځې په هغه صورت کې تر عدلي تعقیب لاندې راولي او محاکمه کوي چې اړوند دولت دا کار نه ترسره کوي، ترسره کولی نه شي، او یا یې هم په ربښتیا سره لیوالتیا ونه لري. دا ممکن هغه مهال صورت ومومي چې قضایي بهیر په نامناسب ډول وځنډول شي او یا یې هم موخه د جنایی مسئولیت څخه د اشخاصو ژغورل وي. دا د بشپړونې د اصل په نوم پیژندل کیږي چې د دی اصل لاندې، ملي نظامونو ته لومړیتوب ورکول کیږي. دولتونه د تر ټولو جدي جرمونو د مرتکبینو د محاکمه کولو اصلي مسئولیت په غاړه لري.

## ۱۰. نړیواله جنایی محکمه په کومو حالاتو کې خپل قضایي واک کاروي؟

کله چې یو هیواد د روم د اساسنامې غړیتوب ترلاسه کړي، هغه هوکړه کوي ترڅو ځان د هغو جرمونو په اړه چې په اساسنامې کې شامل دي، د نړیوالې جنایی محکمې قضایي واک ته تسلیم کړي. محکمه به ممکن په داسې حالاتو کې خپل قضایي واک وکاروي چې تورن مرتکب د غړي هیواد وګړی وي او یا دا چې جرم د غړي هیواد پر خاوره ترسره شوی وي. همداراز، داسې هیواد چې د اساسنامې غړی ندی ممکن د نړیوالې جنایی محکمې قضایي واک ومني. دا شرایط په هغو حالاتو کې د تطبیق وړ ندي چې د امنیت شورا د ملګرو ملتونو د منشور د ۷مې برخې مطابق یو وضیعت د څارنوال دفتر ته راجع کړي.

## ۱۱. آیا د نړیوالې جنایی محکمې قضایي واک زماني محدودیت لري؟

نړیوال جنایی محکمه یوازې د هغو پېښنو په اړه قضایي واک لري چې د ۲۰۰۲ د جولای د لومړي نیټې څخه وروسته چې اساسنامه یې نافذ شوی رامینځته شوي وي.که چیرې یو هیواد له نافذیدو وروسته د اساسنامې غړیتوب ترلاسه کړي، محکمه به ممکن یوازې د هغو جرمونو په اړه قضایي واک وکاروي چې د هغه هیواد لپاره د اساسنامې له نافذیدو وروسته ترسره شوي وي، مګر دا چې دغه هیواد اعلان کړی وي چې د محکمې قضایي واک له پخوا څخه مني. که څه هم، محکمه د هغو پیښنو په اړه چې د ۲۰۰۲ د جولای د لومړي نیټې څخه مخکې رامینځته شوي وي قضایي واک نه شي کارولی. د نوي غړي هیواد لپاره، اساسنامه د هغه هیواد لخوا د تصویب، منلو، منظوری او یا اضافه کیدو د سند د سپارلو د نیټې څخه له ۶۰مې ورځې څخه وروسته د میاشتې لومړی نیټه وي.

## ۱۲. د نړیوالې جنایی محکمې پر وړاندی کوم خلک تر عدلي تعقیب لاندی راتلی شي؟

نړیوال جنایی محکمه اشخاص تر عدلي تعقیب لاندی راولي، نه ډلي او یا هم دولتونه. هر داسي شخص چې د محکمې ترقضایي واک لاندې په جرمونو تورن وي د محکمې حضور ته وړاندی کیدلی شي. په حقیقت کې، د څارنوال د دفتر د عدلي تعقیب پالیسي دا ده چې په هغو اشخاصو تمرکز وکړي چې، د لاسته راغلي شواهدو پر بنسټ، د جرمونو په اړه تر ټولو ډیر مسئولیت په غاړه ولري، او د تورن شخص رسمي مقام په پام که نه نیسي.

## ۱۳. ایا نړیواله جنایی محکمه کوچنیان محاکمه کولی شي؟

نه. محکمه د هیڅ داسي شخص په اړه قضایي واک نه لري چې د اړوندو جرمونو د ارتکاب پرمهال یی عمر له ۱۸ څخه ټیټ وو.

## ۱۴. که چیرې هغه خلک چې ترټولو ډیر مسئولیت په غاړه ولري لوړ سیاسي او پوځي مقام ولري، آیا هغوي د عدلي تعقیب څخه معاف ندي؟ آیا هغوي ته معافیت یا بخښنه نه شي ورکول کیدی؟

نه، هیڅ څوک هم د خپل د اوسني دندې او یا هم د خپل د هغې دندې په سبب د عدلی تعقیب څخه معاف ندی چې د اړوندو جرمونو د ارتکاب پر مهال یی لرل.

د دولت یا حکومت د رئیس، وزیر او یا هم د پارلمان د غړي په حیث دنده لرل د نړیوالې جنایی محکمې پر وړاندې هیڅ څوک له قضایي مسئولیت څخه نه معاف کوي.

په ځینو حالاتو کې، ممکن په لوړ صلاحیت لورونکي موقف کې یو شخص به د هغو اشخاصو لخوا د ترسره شوي جرمونو په اړه مسئول وګڼل شي چې تر امر لاندې یی وو.

په همدې ډول، د نړیوالې جنایی محکمې پر وړاندی، بخښنه د دفاع په ډول نه شي کاریدلی. له همدې کبله، دا د محکمې لخوا د قضایي واک د کارولو پر وړاندې خنډ نه شي کیدی.

## ۱۵. که چیرې نړیواله جنایی محکمه د دولت د یو برحال رئیس پر ضد د نیولو امر صادروي، ایا دا د سیاسي دلایلو لپاره وي؟

نه. نړیواله جنایی محکه یو قضایي اداره ده چې یوه ځانګړې قضایي دنده لري. دا د سیاسي کنټرول تابع ندی. د یوې خپلواکې محکمې په حیث، پریکړې یی د حقوقی معیارونو پر بنسټ د بی طرفه قاضیانو لخوا د بنسټیزې اساسنامې (د روم د اساسنامې) او نورو حقوقي موادو په رڼا کې چې د محکمې کار تنظیموي صادریږي.

## ۱۶. داسې تورونه شته چې ګواکې نړیواله جنایی محکمه یواځې افریقایی هیوادونه په نښه کوي. آیا دا رښتیا دی؟

نه. نړیواله جنایی محکمه د هغو هیوادونو په هکله اندیښنه لري چې د محکمې قضایي واک یی منلي او دا هیوادونه په ټولولویو وچو کې موجود دي.

افریقای هیوادونو د محکمې په تاسیس کې ستره ونډه درلود او د څارنوال د یو خپلواک دفتر د جوړولو په پریکړه کې یی هم غیزمن نقش درلودل. په ۱۹۹۷ کال کې، د جنوبي افریقا انکشافي ټولنه د وړاندیز شوې محکمې په ملاتړ کې ډیر فعال وو او پدی اړه اعلامیه یی په فبروري ۱۹۹۸ کي د سنیګال په داکار کې د افریقای کانفرانس د برخه اخیستونکو لخوا د "د نړیوالې جنایی محکمې د تاسیس د اعلامیی" په وسیله منظور شو.د روم په کانفرانس کې هم د محکمې په اړه تر ټولو له معنا ډکه اعلامیی د افریقایانو لخوا وړاندې شول. د افریقا د ملاتړ پرته، ممکن د روم اساسنامه به هیڅکله نه وای منل شوی. په حقیقت کې، د افریقا سیمه د محکمې په غړیتوب کې ستر استازیتوب لري. باور او ملاتړ یواځې د حکومتونو څخه نه بلکی د مدني ټولنې د سازمانونو لخوا هم وړاندې کیږي. محکمې همداراز د افریقایانو د مسلکي تجربې څخه هم ګټه اخیستې او یو شمیر افریقایان د محکمې په ټولو اُرګانونو کې لوړ مقامونه لري.

د نړیوالې جنایی محکمې اکثرې پلټنې د افریقای حکومتونو په غوښتنه او یا هم هغوي سره له مشورې وروسته پرانیستل شوي. نورې پلټنې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د رجوع وروسته پرانیستل شوي چیرته چې د افریقای حکمتونو استازیتوب هم کیږي.

په پای کې، د رسمي پلټنو سربیره، د محکمې د څارنوال دفتر په څلورو لویو وچو کې په یو شمیر هیوادونو کې لومړني پلټنې ترسره کوي.

نړیواله جنایی محکمه

International
Criminal
Court

## د محکمې جوړښت: څلور اُرګانونه

**ریاست**
د محکمې رئیس

**څونې**
د عادلانه محاکمو یقني کول

**د څارنوال دفتر**
د پلټنو او عدلي تعقیب ترسره کول

**د ثبت دفتر**
د محکمې سره مرسته

## ۲. د نړيوالې جنايي محکمې جوړښت

نړيواله جنايي محکمه له څلورو اُرګانونو څخه جوړه ده: رياست، خونې، د څارنوال دفتر او د ثبت دفتر. هر اُرګان ځانګړی رول او دنده لري.

### ۱۷. رياست څه کوي؟

رياست له دريو قاضيانو څخه متشکل دی (رئيس او دوه مرستيالان) چې د محکمې له ۱۸ قاضيانو څخه په مطلق اکثريت د دوو، دری کلونو دورو لپاره ټاکل کيږي.

رياست د څارنوال د دفترپه اثتثنا، د محکمې د تنظيم مسئوليت په غاړه لري. دا په بهر کې له محکمې څخه استازيتوب کوي او د قاضيانو د کار په تنظيم کې مرسته کوي. رياست همداراز د نورو کارونو د پرمخ بيولو مسئوليت هم لري، د بيلګې په توګه د محکمې لخوا د تحميل شوي مجازاتو د تطبيق يقيني کول.

### ۱۸. خونې څه کوي؟

د رياست د دريو قاضيانو په ګډون، ۱۸ قاضيان د محکمې په دريو قضايي ځانګو کې په دندو ګومارل شوي: له محاکمې څخه دمخه خونه (چې له اوو قاضيانو څخه جوړه شوې)، د محاکمې خونه (چې له شپږو قاضيانو څخه جوړه شوې) او د استيناف خونه (چې له پنځو قاضيانو څخه جوړه شوې). دوي په لاندې خونو کې په دندو ګومارل شوي دي: له محاکمې څخه د مخه خونې (چې هر يو يې د يو او يا هم دريو قاضيانو څخه جوړه شوې)، د محاکمې خونې (چې هر يو يې د دريو قاضيانو څخه جوړه شوې) او د استيناف خونه (چې د استيناف د ځانګې د پنځو قاضيانو څخه جوړه شوې). د قاضيانو دندې او مسئوليتونه د محاکمې څخه مخکې، د محاکمې او د استيناف د خونو د تقسيم په لحاظ په لاندې ډول طرحه شوي:

### ۱۹. قاضيان څه ډول ټاکل کيږي؟

قاضيان د لوړ اخلاقي شخصيت، بی طرفۍ او سپيڅلتوب خاوندان دي چې پخپلو هيوادونو کې په لوړو قضايي موقفونو د ټاکل کيدو لپاره د اړين لياقت درلودونکي دي. ټول د محکمې د قضايي فعاليت اړوند پراخه تجربه لري.

قاضيان د غړو هيوادونو د غونډې لخوا د جنايي قانون او طرزالعمل او د نړيوال قانون په اړوندو برخو کې، د بيلګې په ډول نړيوال بشري قانون او د انساني حقوونو د قانون په اړه د خپل د مستند وړتوب پر بنسټ ټاکل کيږي. هغوي د ځانګړو مسائلو په اړه پراخ تخصص لري، د بيلګې په ډول د ښځو او کوچنيانو پروړاندې تاوتريخوالی.

د قاضيانو ټاکنه د نړۍ د عمده حقوقي نظامونو استازيتوب، د ښځو او نارينه وو عادلانه استازيتوب او عادلانه جغرافيائي تقسيم په پام کې نيسي.

قاضيان عادلانه قضايي بهير او د عدالت مناسب تطبيق يقيني کوي.

## ۲۰. د محاکمې څخه د مخه خونې څه دنده لري؟

د محاکمې څخه دمخه خونې، چې هر یو یې د یو او یا هم د دریو قاضیانو څخه جوړه شوې، ټول هغه مسائل حل کوي چې د محاکمې د پړاو د پیل کیدو څخه مخکې رامینځته کیږي. د دوي دنده په عمده ډول د څارنوال د دفتر لخوا د تحقیقاتي او عدلي تعقیب د فعالیتونو د تطبیق د څرنګوالي څارنه، د پلټنو په پړاو کې د تورنو خلکو، متضررینو او شاهدانو د حقونو تضمین، او د قضایي بهیر د بشپړتیا باوري کول دي. وروسته بیا د محاکمې څخه مخکې خونې پریکړه کوي چې ایا د څارنوال د دفتر په غوښته د نیولو حکمونه او یا هم جلب صادر کړي او ایا د هغو اشخاصو پرضد چې په جرم تورن دي تورونه تائید کړي او که نه. دوي ممکن همداراز د وضیعتنو او قضیو د منلو او د محاکمې څخه دمخه پړاو کې د متضررینو د ګډون په هکله هم پریکړې وکړي.

## ۲۱. د محاکمې د خونو دنده څه ده؟

کله چې د نیولو حکم صادر شي، تورن مرتکب ونیول شي او د محاکمې څخه د مخه خونه تورونه تائید کړي، ریاست د محاکمې یوه خونه ټاکي ترڅو قضیه محاکمه کړي.

د محاکمې د خونې لومړنۍ دنده ده ترڅو دا باوري کړي چې محاکمې عادلانه او ګړندی دي او د تورن شخص حقونو ته په درناوۍ پرمخ ځي او د متضررینو او شاهدانو حفاظت په پام کې لري. دا همداراز د محاکمې په پړاو کې د متضررینو د ګډون په هکله هم پریکړې کوي.

د محاکمې خونه پریکړه کوي چې ایا یو تورن شخص د تورونو په اړه بی ګناه دی او یا هم مجرم، او که چیرې هغه مجرم وموندل شي، خونه به د مشخصو کلنو لپاره د حبس حکم ورکړي چې له دیرشو کلونو او یا هم د عمري حبس څخه زیات نه وي. ممکن مالي جریمه هم تحمیل کړي. پدې ډول د محاکمې خونه ممکن پر محکوم شخص حکم وکړي ترڅو هغه زیان چې متضررینو ته اوړیدلی جبران کړي چې پکی تاوان ورکول، اعاده کول یا هم بیارغونه شامل دي.

## ۲۲. د استیناف د خونې عمومي دندې څه دي؟

د استیناف خونه د محکمې د رئیس او څلورو قاضیانو څخه جوړه شوې ده. ټولې خواوې کولی شي ترڅو د محاکمې څخه د مخه او د محاکمې د خونو د پریکړو پر وړاندې د استیناف غوښتنه وکړي او یا هم د استیناف د غوښتنې لپاره اجازه وغواړي. د استیناف خونه به ممکن هغه پریکړه چې په اړه یی د استیناف غوښته شوې تائید کړي، وایی ړوي او یا یی هم تعدیل کړي ، چې پدی کې پریکړې او جزا دواړه شامل دي، او حتا ممکن د محاکمې د یوې مختلفې خونې لخوا د نوي محاکمې حکم صادر کړي.

خونه به همداراز ممکن د محکومیت او جزا نهایي پریکړه هم تصحیح کړي.

## ۲۳. د څارنوال دفتر څه کوي؟

د څارنوال دفتر د محکمې یو خپلواک اُرګان دی. دندې یی د نړیوالې جنایي محکمې تر قضایي واک لاندې د وضیعتونو او ادعا شوي جرمونو په هکله د معلوماتو اخیستل او تحلیل، ورته د راجع شوي وضیعتونو تحلیل

کول ترڅو څرګند شي چې ایا د نسل وژنې، د بشریت ضد جرمونو، جنګي جرمونو او یا د یرغل د جرم په اړه د پلټنې لپاره معقول بنسټ شته، او محکمې ته د دغو جرمونو د مرتکبینو وړاندې کول دي.

د څارنوال دفتر د خپلو دندو د ترسره کولو لپاره له دریو څانګو څخه جوړ شوی: (۱) د پلټنې څانګه، چې د پلټلو د پرمخ بیولو مسئولیت په غاړه لري (چې پکې د شواهدو راټولول او معاینه، ترپلټنې لاندې اشخاصو او همداراز د متضررینو او شاهدانو څخه پوښتنې شامل دي). پدې اړه، د ربښتیا د موندنې لپاره، اساسنامه حکم کوي ترڅو څارنوال په جرم کی ښکیل کونکي او د جرم څخه ویستونکي حالات دواړه په مساوي ډول وڅیړي. (۲) د عدلي تعقیب څانګه د پلټنې په بهیر کې ونډه لري، مګر اصلي مسئولیت یې د محکمې د مختلفو خونو په حضور کې د قضایاو مرافعه ده. (۳) د قضایي واک، بشپړتیا او همکاریو څانګه، چې د پلټنې د څانګې په مرسته، محکمې ته د رارسیدلي معلوماتو او وضیعتونو ارزونوه ترسره کوي، وضیعتونه او قضایا تحلیلوي ترڅو د منل کیدو امکان یې وڅیړي او د هغو همکاریو د ترلاسه کولو سره مرسته کوي چې د څارنوال دفتر د خپلې دندې د ترسره کولو لپاره ورته اړتیا لري.

## ۲۴. د ثبت دفتر څه کوي؟

د ثبت دفتر د محکمې سره مرسته کوي ترڅو محاکمې په عادلانه، بی طرفه او علني ډول پرمخ یوسي. د ثبت د دفتر مرکزي دنده د محکمې خونو او د څارنوال دفتر ته د اداري او عملیاتي ملاتړ برابرول دی. دا همداراز د ثبت د مسئول سره د مدافعې، متضررینو، اړیکو او امنیتي چارو په اړه مرسته کوي. په همدی ډول، د ثبت دفتر محکمې ته د لازمو خدماتو برابرول یقیني کوي او د متضررینو، شاهدانو او مدافعې سره د مرستې اغیزمنې لارې چارې جوړوي ترڅو د روم د اساسنامې او د طرزالعمل او شواهدو د قواعدو مطابق د هغوي د حقوقوڅخه ساتنه وشي.

د محکمې د اړیکو د رسمي کانال په حیث، د ثبت دفتر د نړیوالې جنایي محکمې د عامه معلوماتو او پوهاوی د فعالیتونو په اړه د بنیادي مسئولیت لري.



## ۳. هغه جرمونه چې د نړیوالې جنایي محکمې تر قضایي واک لاندې دي

### ۲۵. کوم جرمونه د نړوالې جنايي محکمې تر قضايي واک لاندې دي؟

د محکمې دنده ده ترڅو اشخاص (نه دولتونه) هغه مهال محاکمه کړي چې د محکمې لخوا د قضايي واک د کارولو شرايط بشپړ شي، او پدې ډول اشخاص په مجموع کې د نړيوالې ټولنې د اندیښنې وړ د تر ټولو سنګينو جرمونوپه اړه، یعنی د نسل وژنې جرم، جنګي جرمونه، د بشریت ضد جرمونه او د یرغل د جرم په اړه مسئول وګڼي.

### ۲۶. نسل وژنه څه ده؟

د روم د اساسنامې مطابق، "نسل وژنه" د هر لاندې عمل په معنی دی چې د یو ملي، توکميز، نژادي يا مذهبي ډلې د ټولو یا یوې برخې د له مینځه وړلو په نیت ترسره شي:

- د ډلې د غړو وژنه؛
- د ډلې غړو ته د جدي ځاني او ذهني زیان سبب کیدل؛
- په عمدي ډول په ډلې باندې د ژوند داسې شرایط تحمیل کول چې موخه یې د هغوي د ټولو او یا یوې برخې مادي ویجاړول وي؛
- د داسې اقداماتو تحميلول چې موخه يې په ډله کې د زيږون (زيږيدنو) مخنيوی وي؛
- په اجباراي ډول د يوې ډلې کوچنيان بلې ډلې ته ليږدول.

### ۲۷. بشریت ضد جرمونه کوم دي؟

"د بشريت ضد جرمونه" لاندې اعمال په بر کې نيسي کله چې په پراخه پيمانه د يو منظم بريد په ډول ترسره شي او د داسې ملکي وګړو پر ضد رهبري شي چې د بريد څخه خبر وي:

- قتل؛
- ډله ايزه وژنه؛
- په غُلامی نیول؛
- تبعيد او يا د وګړو اجباري ليږد؛
- حبس؛
- شکنجه؛
- جنسي تيری، جنسي مريتوب، اجباری فحشا، اجباري اميدواري (حمل)، اجباري تعقيم، او يا د جديت په لحاظ د دوي سره د پرتله کيدو وړ نور جنسي تاوتريخوالي؛
- په سیاسي، نژادي، ملي، توکميز، کلتوري، مذهبي او يا جنسي دلايلو د پيژندلو وړ د يوې ډلې ځورونه؛
- د اشخاصو تحميلي ورکيدل؛
- د آپارتايد جرم؛
- پدې بڼه نور غير انساني اعمال چې په عمدي ډول د سترې ځورونې او يا د جدي ځاني او ذهني ټپ سبب کيږي.

### ۲۸. جنګي جرمونه څه دي؟

په"جنګي جرمونه" کې د جنيوا د کنوانسيون څخه جدي سرغړونې او د نړيوالو وسله والو نښتو او د هغو

نښتو په اړه چې "نړیواله بڼه ونه لري" د قوانیونو او دودونو څخه سرغړونې شامل دي چې د روم په اساسنامې کې ذکر شوي، هغه مهال چې د یو پلان او یا هم پالیسۍ په ډول او یا هم په پراخ ډول ترسره شي. دا ممنوعه اعمال په لاندې ډول دي:

- قتل؛
- د اعضاو غوڅول، ظالمانه چلند او شکنجه؛
- یرغمل نیول؛
- په عمدي ډول د ملکي وګړو پر ضد د بریدونو رهبري کول؛
- په قصدي ډول د داسې ودانیو پر ضد چې د مذهبي، تعلیمي، هنري، ساینسي او یا خیریه موخو لپاره ځانګړي شوي وي، تاریخي یادګارونو او یا روغتونونو پر ضد د بریدونو رهبري کول؛
- تالا؛
- جنسي تیری، جنسي مریتوب، اجباري امیدواري (حمل) او د جنسي تاوتریخوالي نور ډولونه؛
- وسلاولو ځواکونو او یا هم ګروپونه ته د ۱۵ څخه د کم عمره کوچنیان ګومارل او د هغوي څخه په فعال ډول په جګړو کې کار اخیستل؛

## ۲۹. د یرغل جرم څه دی؟

لکه څرنګه چې د ۲۰۱۰ د کال د می د ۳۱ مې څخه د جون تر ۱۱ مې پورې په کمپالا (یوګندا) کې د غړو هیوادونو لخوا د روم د اساسنامې د بیاکتنې په کانفرانس کې ومنل شوه، "د یرغل جرم" څخه هدف د یو هیواد لخوا د بل هیواد د حاکمیت، ځمکني بشپړتیا او یا هم سیاسي خپلواکۍ پرضد د وسلوال ځواک د کارولو د پلان د جوړولو، چمتوالي، پیل او یا هم تطبیق دې.

د یرغ په عمل کې، د نورو سربیره، تعرض، پوځي اشغال، د ځواک د کارولو په وسیله الحاق او د بندرونو او ساحلونو محاصره شامل دي، که چیرې د خصوصیت، جدیت او پراخوالي په لحاظ د ملګرو ملتونو د منشور څخه ښکاره سرغړولنه وبلل شي.

د یرغل د عمل مرتکب پداسې موقف کې یو شخص وي چې په اغیزمن ډول د هیواد په سیاسي او پوځي اقداماتو کنټرول ولري او یا یې رهبري کړي.

## ۳۰. محکمه څه مهال د یرغل د جرم په اړه قضایي واک لري؟

مشروط پر دې چې د ۲۰۱۷ د جنوري د لومړي نیټې وروسته، د غړو هیوادونو دوه پر درې اکثریت پریکړه وکړي او مشروط پردې چې ۳۰ غړي هیوادونه د دغه جرم په هکله تعدیل منظور کړي، محکمه به ممکن د یرغل د جرم اړوند خپل قضایي واک وکاروي.

## ۳۱. محکمه د کومو شرایطو لاندې د یرغل د جرم په اړه خپل قضایي واک کارولی شي؟

محکمه د یرغل د جرم په اړه خپل قضاي واک د یو غړي هیواد لخوا د یرغل د عمل د ترسره کولو په اړه

کارولی شي، پرته له دې چې غړي هیواد له مخکې څخه اعلان کړي وي چې دا ډول قضایي واک نه مني.

په اشتثنا د هغو وضیعتونو چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا لخوا محکمې ته راجع شوي وي، محکمه د داسې هیواد پر خاوره او یا هم د داسې هیواد د وګړو لخوا د ترسره شوي یرغل په اړه قضایي واک نه لري چې د روم د اساسنامې غړی نه وي.


محکمه به د یرغل د جرمونو په اړه یوازې یو کال وروسته له هغه څخه قضایي واک ولري چې ۳۰ غړي هیوادونه په ۲۰۱۰ کې د غړو هیوادونو د غونډې لخوا د یرغل د جرم په اړه تصویب شوي تعدیلات تائید کړي او یا یې ومني.

## ۳۲. د یرغل د جرم په اړه پلټنې څرنګه پرانیستل کیږي؟

که چیرې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پریکړه وکړي چې د یرغل عمل ترسره شوی، د نړیوالې جنایی محکمې څارنوال کولی شي د پورته ذکر شوي شرایطو لاندې د پلټې د پرانیستلو پریکړه وکړي.

همداراز څارنوال ممکن وضیعت وڅیړي او د خپل د ارزونې پر بنسټ، د ملګرو ملتونو عمومي منشي ته د وضیعت په اړه خبر ورکړي.

که چیرې د څارنوال لخوا د خبر ورکولو څخه شپږ میاشتې وروسته د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پریکړه ونه کړي چې ایا د یرغل جرم ترسره شوی او که نه، څارنوال بیا هم د نړیوالې جنایی محکمې د محکمې څخه مخکې د څانګې د منظورۍ په شرط، ممکن د یرغل د جرم په اړه پلټنې پرمخ یوسي.



## ۴. نړیواله جنایی محکمه څرنګه کار کوي؟

### الف. ارجاع، تحلیل او پلټنې

**۳۳. قضیې څرنګه د محکمې ته وړاندې کیږي؟**

د روم د اساسنامې هر غړی هیواد کولی شي ترڅو د څارنوال د دفتر څخه د یوې پلټنې د ترسره کولو غوښتنه وکړي. داسې یو هیواد چې د اساسنامې غړی هیواد نه وي همدراز کولی شي د داسې جرمونو په اړه چې پر خاوره یې او یا یې هم د وګړو لخوا ترسره شوي وي د محکمې قضایي واک ومني او د څارنوال د دفتر څخه د پلټنې د ترسره کولو غوښتنه وکړي. همداراز د ملګرو ملتونو د امنیت شورا هم وضیعتونو محکمې ته راجع کوي.

**۳۴. ایا څارنوال پخپل ابتکار د پلټنې د پرانیستلو پریکړه کولی شي؟**

هو، په هغه صورت کې چې څارنوال د داسې جرمونو په اړه معتبر معلومات ترلاسه کړي چې د یو غړي هیواد او یا هم د داسې هیواد وګړي پکی ښکیل وي چې د محکمې قضایي واک یې منلی، او یا هم د داسې جرمونو په اړه چې د داسې هیوادونو پر خاورو ترسره شوي وي، او پریکړه وکړي چې پلټنو د ترسره کولو لپاره معقول بنسټ موجود دی. داسې معلومات د اشخاصو، نړیوالو دولتي او غیر دولتي سازمانونو او یا هم د نورو معتبرو منابعو لخوا برابریږي. مګر، پداسې حالاتو کې اړینه ده ترڅو څارنوال د محاکمې څخه مخکې د خونې له قاضیانو څخه اجازه ترلاسه کړي.

**۳۵. کله چې یو وضیعت د پلټنې لپاره نړیوالې جنایی محکمې ته راجع کیږي، څه پیښیږي؟**

څارنوال پریکړه کوي چې ایا د هغوي په نظر، د ادعا شوي جرمونو په اړه محکمه قضایي واک لري او که نه. د موجوده معلوماتو له بشپړې ارزونې وروسته، څارنوال پریکړه کوي چې ایا د پلټنې د ترسره کولو لپاره معقول بنسټ موجود دی او که نه. پدې ډول، لازمه ده ترڅو تثبیت کړي چې ایا د نسل وژنې جرم، د بشریت ضد جرمونه او یا هم جنګي جرمونه ترسره شوي او که نه، او که چیرې ترسره شوي، نو ایا د ۲۰۰۲ د جولای د لومړي نیټی څخه وروسته ترسره شوي او که نه. همداراز اړینه ده ترڅو څارونوال تثبیت کړي چې ایا ملي مقامات د تورنو مرتکبینو په اړه واقعي پلټنې او محاکمې ترسره کوي او که نه. په پای کې، لازمه ده ترڅو غړو هیوادونو او نورو داسې هیوادونو ته کوم چې قضایي واک لري د پلټنو د پیل د نیت خبر ورکړي.

**۳۶. پلټنه څرنګه ترسره کیږي؟**

د څارنوال دفتر خپل پلټونکي هغو سیمو ته لیږي چیرته چې په ادعا شوي ډول جرمونه ترسره شوي وي. لازمه وي ترڅو پلټونکي له احتیاط څخه کار واخلي او متضررینو او شاهدانو ته د خطر سبب نه شي. دڅارنوال دفتر همداراز د دولتونو او نړیوالو سازمانونو څخه د مرستې غوښتنه کوي. پلټونکي د تورن شخص د ګناه او بیګناهۍ شواهد لټوي.

**۳۷. ایا نړیواله جنایی محکمه به ټول هغه اشخاص تر عدلي تعقیب لاندې راولي چې د ډیرو سنګینو جرمونو په ترسره کولو تورن وي؟**

نه. محکمه د دې وړتیا نه لري ترڅو ټول هغه اشخاص چې د نړیوالې ټولنې د اندیښنی وړ د جرمونو په ترسره کولو تورن وي عدالت ته وړاندې کړي. د څارنوال د دفتر د عدلي تعقیب پالیسي دی ترڅو خپلې پلټنې او عدلي تعقیب، د ترلاسه شوي شواهدو په رڼا کې، په هغو اشخاصو متمرکز کړي چې د داسې جرمونو په اړه ترټولو زیات مسئولیت په غاړه لري.

**۳۸. ایا نور محاکم هغه مرتکبین تر عدلي تعقیب لاندې راوستلی شي چې نړیواله جنایی محکمه یی تر عدلي تعقیب لاندې نه راولي؟**

د بشپړونې د اصل مطابق، ملي عدلي نظامونه د جرمونو د مرتکبینو د محاکمې په اړه خپل مسئولیت خوندي ساتي.



## ب. نیونې

### ۳۹.څوک د نیولو د حکم او د حاضریدو د جلب د صادرولو صلاحیت لري؟
د پلټنې د پیل څخه وروسته، یواځې د محاکمې څخه مخکې خونه، د څارنوال په غوښتنه، هغه مهال د نیولو او یا هم د حاضریدو جلب صادروي چې د دې باور په اړه معقول دلایل موجود وي چې اړوند شخص د نړیوالې جنایی محکمې تر قضایي واک لاندې یو جرم ترسره کړی.

### ۴۰. د نیولو د حکم او یا هم د حاضریدو د جلب د صادرولو څخه مخکې، قاضیان د څارنوال څخه کومو معلوماتو ته اړتیا لري؟
کله چې څارنوال د نیولو د حکم او یا د حاضریدو د جلب غوښتنه کوي، اړینه ده ترڅو لاندې معلومات قاضیانو ته ورکړي:

- د شخص نوم؛
- د هغو جرمونو تشریح چې باور کیږي شخص ترسره کړي؛
- د حقایقو یوه لنډه خلاصه (هغه اعمال چې ادعا کیږي جرمونه دي)؛
- د شخص پر ضد د شواهدو یوه خلاصه؛
- هغه دلایل چې پر بنسټ یې څارنوال پدې باور دی چې د شخص نیول اړین دی.

### ۴۱. کوم دلایل د نیولو د حکم صادرول توجیه کوي؟
قاضیان به په هغه صورت کې د نیولو حکم صادر کړي چې دا کار په محاکمې کې د شخص د حاضریدو د یقیني کولو لپاره اړین وي، ترڅو پلټنه او یا هم د محکمې بهیر د خنډ یا خطر سره مخ نه کړي او یا هم د نورو جرمونو د ترسره کولو څخه مخنیوي وکړي.

### ۴۲. د نیولو د حکم د صادریدو څخه وروسته څه پیښیږي؟
د ثبت مسئول اړوند هیواد یا نورو هیوادونو ته، په هره قضیه کې د قاضیانو د پریکړې مطابق، د تورن شخص د نیولو او تسلیمی لپاره غوښتنې لیږي.

کله چې اړوند شخص ونیول شي، محکمې ته خبر ورکول کیږي، محکمه بیا دا یقیني کوي چې نوموړي شخص ته د نیولو د حکم یوه کاپي په داسې یوه ژبه ورسیږي چې په بشپړ ډول پرې پوهیږي او پرې خبرې کولی شي.

### ۴۳. ایا نړیواله جنایی محکمه د تورنو اشخاصو د نیولو صلاحیت لري؟
محکمه خپل د پولیسو ځواک نه لري. پدې ډول، محکمه د دولت په همکاریو تکیه کوي، چې د تورنو اشخاصو د نیولو او تسلیمی لپاره اړین دی.

د روم د اساسنامې مطابق، غړي هیوادونه د محکمې سره په بشپړ ډول د هغو جرمونو د پلټنې او عدلي تعقیب په اړه مرسته کوي چې د محکمې تر قضایي واک لاندې دي.

## ۴۴. د نیولو حکمونه څوک تطبیق کوي؟

په ټولو قضیو کې د نیولو د حکمونو تطبیق د هیوادونو په غاړه دی. د نړیوالې جنایی محکمې د تاسیس پر مهال، هیوادونو د دوو رُکنونو پر بنسټ یو نظام جوړ کړ. محکمه پخپله قضایي رُکن دی. عملیاتي رُکن یی د هیواد پورې اړه لري، چې پکې د محکمې د احکامو تطبیق شامل دی.

د روم د اساسنامې غړي هیوادنه قانوني دنده لري ترڅو په بشپړ ډول د نړیوالې جنایی محکمې سره همکاري وکړي. کله چې یو غړی هیواد د مرستې لپاره غوښتنې ته په غاړه ایښودلو کې پاتې راشي، محکمه به پدې اړه موندنې وکړي او موضوع د نورو اقداماتو لپاره د غړو هیوادنو غونډې ته راجع کړي.

کله چې د محکمې قضایي واک د امنیت د شورا لخوا په کار واچول شي، د همکارۍ دنده د ملګرو ملتونو ټولو غړو هیوادونو ته پراخیږي، پرته له دې چې هغوي د اساسنامې غړي هیوادونه دي او که نه. د محکمې تر قضایي واک لاندې جرمونه، تر ټولو سنګین جرمونه دي چې بشر یی پیژني او لکه څرنګه چې د اساسنامې ۲۹مه ماده حکم کوي، دا جرمونه د محدودیتونو د کوم قانون تابع نه شي کیدلی. د نیولو حکمونه عمري حکمونه دي، له همدې امله، هغه اشخاص چې غایب دي ژر یا وروسته به د محکمې سره مخامخ شي.

## ۴۵. د شخص له نیول کیدو وروست څه پیښیږي؟

نیول شوی شخص بی له ځنډه د نیول کیدو په هیواد کې د با صلاحیته محکمې حضور ته وړاندې کیږي کوم چې به دا تثیت کړي چې د نیولو حکم د نیول شوي شخص لپاره وو، نیول شوی شخص د قانوني بهیر سره سم نیول شوی او د شخص حقونو ته درناوی شوی. کله چې د تسلیمولو حکم صادر شو، شخص محکمې ته سپارل کیږي او د هالند د هاګ په ښار کې د توقیف په مرکز کې ساتل کیږي.

## ۴۶. د هاګ په ښار کې د توقیف په مرکز کې د بند شرایط څه ډول دي؟

د نړیوالې جنایی محکمې د توقیف مرکز د بندیانو سره د چلند لپاره د نړیوال بشري حقونو د لوړ معیار، لکه د ملګرو ملتونو د حد اقل معیار د قواعدو سره په سمون کې فعالیت کوي. د تفتیش یوه خپلواکه اداره منظمه او ناڅاپه تفتیش ترسره کوي ترڅو د بندیانو د بند او هغوي سره د چلند څرنګوالی وڅیړي. د نړیوالې جنایی محکمې د توقیف په مرکز کې، ورځنی مهال ویش بندیانو ته فرصت ورکوي ترڅو په صحن کې قدم ووهي، تمرین وکړي، طبي پاملرنه ترلاسه کړي، په لاسي فعالیتونو کې برخه واخلي او د خپل د مدافعې د چمتو کولو لپاره خپل تر اختیار لاندې سهولتونو ته لاسرسۍ ولري. سربری پردې، مرکز رسنیز سهولتونه لري چې مختلف روزنیز، تفریحی او سپورتی پروګرامونه وړاندې کوي. د نړیوالې جنایی محکمې بندیان همداراز کمپیوټر، تلویزیون، کتابونو او مجلو ته لاسرسی لري. هغه څوک چې بی وسه وي، حق لري ترڅو په رسمي ساعتونو کې په وړیا ډول خپل د مدافعې وکیل ته ټیلفون وکړي. هر ۱۰ مربع متره کوټه د یو شخص لپاره ځانګړې شوې. یوه معیاري کوټه د خوب یو کټ، میز، تاخچه، الماری، تشناب، د لاسی مینځلو ځای، تیلویزیون او هغه مهال چې کوټه تړل شوې وي، د ساتونکو سره د اړیکه نیولو لپاره یو داخلي ټیلفون.

محکه هره ورځ دری ځلی خواړه برابروي، که چیرې بندیان وغواړي پخپله پخلی وکړي، شریک پخلنځای ته هم لاسرسی لري. د سودا اخیستو لپاره هم یو لیست موجود دی تر څو بندیان د امکان تر حده پورې اضافي شیان واخلي.

ټول بندیان کولی شي په کال کی څو ځل د خپلو کورنیو سره ملاقات وکړي، هغه بندیان چې بی وسه بلل کیږي، مصارف یی د امکان تر حده د محکمې په غاړه دی.

هغه خلک چې د نړیوالې جنایی محکمې تر قضایي واک لاندې د جرمونو په اړه محکوم شوي دي خپل حبس د هاګ په ښار کې د نړیوالې جنایی محکمې د توقیف په مرکز کې نه تیروي، ځکه چې دا مرکز د اوږودمهاله حبس لپاره ندی جوړ شوی. محکومین له همدې امله د هالند څخه بهر یو محبس ته لیږل کیږي، پداسې یو هیواد کې چې محکمه یی د هغو هیوادونو د لیست څخه ځانګړی کوي چې لیوالتیا یی ښودلې تر څومحکومینو ته اجازه ورکړي ترڅو خپل حبس هلته تیر کړي.



## ج. د تورنو اشخاصو حقونه

### ۴۷. ایا بندیان محکمې ته خپل د لیږدیدو له امله محکوم بلل کیږي؟

نه. هر څوک د محکمې په حضور کې د مجرم ثابت کیدو تر وخته بی ګناه بلل کیږي. اړین دی ترڅو څارنوال د یو تورن شخص جرم ثابت کړي او د محاکمې خونه به یواځې هغه مهال یو څوک محکوم کړي چې رضایت ولري چې تورونه د معقول شک پرته ثابت شوي.

### ۴۸. تورن اشخاص څه حقونه لري؟

تورن اشخاص بی ګناه بلل کیږي. هغوي د محاکمې په دوران کې د محکمې په خونه کې حاضر وي، او د خپلو د قضیو د علني، عادلانه او بیطرفانه اوریدو حق لري. پدې منظور، د محکمې په حقوقي اسنادو کې متعدد تضمینونه موجود دي، چې د بیلګې په توګه لاندې حقوق پکی شامل دي:

- د خپلې خوښې د وکیل لخوا مدافعه، د خپلو شواهدو او شاهدانو وړاندې کول او د داسې ژبې کارول چې په بشپړ ډول پرې پوهیږي او پرې خبرې کوي؛
- په تفصیل سره د تورونو په اړه پداسې ژبه خبریدل چې په بشپړ ډول پرې پوهیږي او پرې خبرې کوي؛
- د مدافعې د چمتو کولو لپاره کافي وخت او په آزاد او محرم ډول د خپل د وکیل سر اړیکی؛
- د بی ځایه ځنډ پرته محاکمه؛
- جبراً ګواهي ورکولو او یا هم په جرم اقرار ته نه مجبوریدل، پداسې حال کې چې چوپتیا یې د مُجرمیت او بی ګناهی د تثبیت کولو لپاره په پام کې نه نیول کیږي؛
- څارنوال دې ته اړ ایستل ترڅو پخپل ولکه او کنترول کې داسې شواهد د مدافعې وکیل ته وسپاري چې باور کیږي د تورن شخص بی ګناهي ښایی، او یا هم د تورن شخص ګناه کموي، او یا هم داسې شواهد چې د څارنوال د شواهدو په اعتبار اغیزه کوي.

### ۴۹. که چیرې یو تورن شخص د حقوقي مرستې لپاره د پیسو د ورکولو وسیله ونه لري څه پیښیږي؟

تورن اشخاص په ټولو قضیو کې چې د عدالت اړتیا ده د حقوقي مرستو حق لري، او که چیرې تورن شخص یې د پیسو د ورکړې وسیله ونه لري، د محکمې لخوا د حقوقي مرستو مستحق دی.

### ۵۰. ایا بندیان کولی شي ترڅو د محاکمې د ترسره کیدو پورې لنډمهاله ازادي ترلاسه کړي؟

ټول بندیان مستحق دي ترڅو د محاکمې د ترسره کیدو پورې د لنډمهالې ازادۍ غوښتنه وکړي. د غوښتنې د مسترد کیدو په صورت کې، پریکړه وخت په وخت د اړوندې خونې لخوا لږترلږه په هرو ۱۲۰ ورځو کې بیا کتل کیږي، او ممکن هر وخت د بندي او یا هم د څارنوال په غوښتنه بیا وکتل شي.

**۵۱. د مدافعې لپاره د عامه مشاور د دفتر دنده څه ده؟**

د مدافعې لپاره د عامه مشاور دفتر د مدافعې حقوقو ته وده ورکوي، له هغوي څخه استازيتوب کوي او په اړه يې څېړنې ترسره کوي، د بنيادي دفاعي مسايلو اهميت لوړوي او هڅه کوي ترڅو د پلټنې او محاکمې په ټولو پړاونو کې د مدافعې لپاره مساوات ترالاسه کړي.

دا دفتر د خپلو بنيادي فعاليتونو په لحاظ يو خپلواک دفتر دی، مګر يواځې له اداري پلوه د ثبت د دفتر تر سيورې لاندې راځي.



## د. د محاکمې څخه مخکې د تورونو تائید

### ۵۲. ایا تورن اشخاص د هاګ ښارته د رسیدو سره سم محکمې ته حاضریږي؟

هو. د محکمې حضور ته د تورن شخص لومړۍ حاضري د هاګ ښار ته د هغه/هغې د رارسیدو څخه لنډ وخت وروسته وي. په لومړي حاضرۍ کې، د محاکمې څخه مخکې خونه د تورن شخص شهرت تائیدوي، دا یقیني کوي چې تورن شخص په تورونو پوهیږي، د هغه ژبې تصدیق کوي چې د محکمې په بهیر کې به کارول کیږي او د تورونو د تائید د اوریدو د پیل نیټه ټاکي.

د تورونو د تائید په اوریدنه کې - چې محاکمه ندی، بلکې د محاکمې څخه مخکې یوه اوریدنه ده - اړینه ده ترڅو څارنوال د محاکمې پړاو ته د قضیې د رسیدلو لپاره کافي شواهد وړاندې کړي. د تورن شخص وکیل ممکن د تورونو په اړه اعتراض وکړي، د څارنوال د شواهدو ننګونه وکړي او همداراز خپل شواهد وړاندې کړي.

د تورونو د تائید اوریدنه د څارنوال، تر عدلي تعقیب لاندې د شخص او د هغه/هغې د وکیل او د متضررینو د استازو په حضور کې ترسره کیږي. لکه څرنګه چې د اساسنامې ۶۱مه ماده حکم کوي، تورن شخص کولی شي ترڅو پدغه اوریدنه کې خپل د حضور د حق څخه تیر شي.

### ۵۳. د تورونو د تائید له اوریدنې وروسته، د محاکمې څخه مخکې خونه کومې پریکړې کولی شي؟

د تورونو د تائید له اوریدنې وروسته، د محاکمې څخه مخکې خونه به ممکن:

- د تورونو د تائید څخه انکار وکړي؛ داسې یوه پریکړه د څارنوال لخوا د اضافي معلوماتو پر بنسټ د تورونو د تائید د بلې غوښتنې مخنیوی نه شي کولی؛
- محکمه وځنډوي او د څارنوال څخه غوښتنه وکړي ترڅو د نورو شواهدو وړاندې کول او یا هم د نور تحقیق ترسره کول په پام کې ونیسي او یا هم پدې سبب د تورونو د تعدیل غوښتنه وکړي چې شواهد بل جرم ارتکاب ښایي؛
- تورونه تائید کړي او قضیه محاکمې ته راجع کړي؛ د تائید پرمهال، د محکمې ریاست د محاکمې یوه خونه تشکیلوي چې د قضایي بهیر د راتلونکي پړاو مسئولیت به په غاړه لري: محاکمه


### ۵۴. ایا د تورونو تائید د تورن شخص د مجرمیت په اړه له مخکې څخه قضاوت کوي؟

نه. د تورونو د تائید د اویریدنې موخه د تورن شخص پرضد د ناکافي حقوقي بنسټ په اساس د قضایي بهیر څخه د مخنیوي په وسیله د هغوي د حقونو څخه ساتنه ده. د محاکمې څخه په مخکې پړاو کې، اړین دی ترڅو څارنوال هر تور په کافي شواهدو حمایه کړي او د دې باور لپاره معتبر دلایل تثبیت کړي چې شخص ادعا شوي جرمونه ترسره کړي. که چیرې یو یا ډیر تورونه تائید شي، قضیه د محاکمې لپاره د محاکمې خونې ته لیږل کیږي.

### ۵۵. د تورونو له تائید څخه وروسته څه پیښیږي؟

د تورونو له تائید وروسته، د محکمې څخه مخکې خونه قضیه د محاکمې لپاره د محاکمې یوې خونې ته راجع کوي، کوم چې به د قضایي بهیر راتلونکی پړاو پرمخ وړي: محاکمه

د محاکمې د پیل څخه مخکې، د محاکمې د خونې قاضیان د طرزالعمل اړوند هغه موضوعات په پام کې نیسي چې ممکن د قضیې د خواوو لخوا ورته وړاندې شي او محاکمې ته د چمتوالي په منظور ناستې ترسره کوي ترڅو د طرزالعمل اړوند ستونزې هوارې کړي او د قضایي بهیر د عادلانه او ګړندی پرمختګ سره مرسته وکړي.



## ۵. محاکمه

### ۵۶. محاکمې په کوم ځای کې ترسره کیږي؟

پرته له دی چې قاضیان په بل ځای کې د محاکمې د ترسره کولو پریکړه وکړي، محاکمې د هاګ په ښارکې د محکمې په مقر کې ترسره کیږي. دا مسئله په ځو قضیو کې راپورته شوې. لازمي دی ترڅو تورن شخص پخپل/پخپلې محاکمې کې حاضر وي کوم چې په علني ډول ترسره کیږي، پرته لدې چې محکمه پریکړه وکړي ترڅو د متضررینو او شاهدانو د امنیت او یا هم د شواهدو د حساسیت او محریمت د محافظت په منظور دې د قضايي بهیر ځنې برخې په پټ ډول ترسره شي.

### ۵۷. د محاکمې په پیل کې څه پیښیږي؟

د محاکمې په پیل کې، د محاکمې خونه حکم کوي ترڅو د تورن شخص پر ضد تورونه دې ورته ولوستل شي او پوښتنه کوي چې ایا هغه پرې پوهیږي او که نه. د محکمې خونه وروسته د تورن څخه غوښتنه کوي ترڅو پخپل جرم اقرار وکړي او یا هم ځان بی ګناه وبولي.

### ۵۸. که چیرې یو تورن شخص په جرم اقرار وکړي څه پیښیږي؟

لومړی، د محاکمې خونه دا باوري کوي چې تورن شخص پر جرم د اقرار په ماهیت او پایلو پوهیږي، دا چې د تورن شخص لخوا اقرار پخپله خوښه د خپل وکیل سره د کافي مشورې وروسته ترسره شوی او دا چې په جرم اقرار د هغو حقایقو او تورونو سره سمون لري چې د څارنوال لخوا لګول شوي او تورن شخص پرې اقرار کوي. که چیرې د محاکمې خونه قانع وي چې دا ټول شرایط پوره دي، نو تورن شخص به د لګول شوي تور په اړه محکوم کړي. که چیرې خونه قانع نه وي چې دا شرایط پوره دي، نو خونه به داسې وبولي چې اقرار ندی شوی، چې پدی صورت کې به حکم وکړي ترڅو محاکمه دوام ومومي.

### ۵۹. محاکمه څه ډول ترسره کیږي؟

د محاکمې پرمهال، څارنوال او مدافع وکیل فرصت لري ترڅو خپلې قضیې وړاندې کړي. حتمي ده ترڅو څارنوال محکمې ته داسې شواهد وړاندې کړي چې د ټول معقول شک پرته دا ثابت کړي چې تورن شخص مجرم دی. دا شواهد کیدی شي اسناد، نور واقعي مواد او یا هم د شاهد بیان وي. حتمي ده ترڅو څارنوال همداراز هغه شواهد هم افشا کړي چې ممکن دا ښکاره کړي چې تورن شخص بی ګناه دی.

په لومړي کې څارنوال خپل شواهد وړاندې کوي او شاهدان د ګواهی ورکولو لپاره رابولي. کله چې څارنوال د هر شاهد څخه پلټنه پای ته ورسوله، مدافع وکیل ته هم فرصت ورکول کیږي ترڅو د شاهدانو څخه پلټنه وکړي.


کله چې څارنوال خپل ټول شواهد وړاندې کړي، بیا د تورن شخص وار راځي ترڅو د خپل/خپلې وکیل په مرسته خپل/خپله دفاع وړاندې کړي.

### ۶۰. څوک شواهد وړاندې کولی شي؟

د محاکمې ټولې خواوې د قضیې اړوند شواهد وړاندو کولی شي. هرڅوک د قانون مطابق تر مجرم ثابت کیدو پورې بی ګناه بلل کیږي. د ټول معقول شک پرته د تورن شخص د مجرم ثابتولو مسئولیت د څارنوال په غاړه دی. تورن شخص حق لري ترڅو د څارنوال له شاهدانو څخه پلټنې وکړي او همداراز د څارنوال د شاهدانو لپاره په ورته شرایطو پخپل استازیتوب شاهدان وړاندې کړي او پلټنې ترې وکړي.

هغه مهال چې د متضررینو شخصي ګټې اغیزمنې کیږي، محکمه د قضایي بهیر په هغو پړاونو کې چې د محکمې لخوا مناسب وبلل شي، پداسې ډول د هغوي د نظرونو او اندیښنو د وړاندې کولو او په پام کې نیولو اجازه ورکوي چې د تورن شخص د حقونو او د یوې عادلانه او بیطرفه محاکمې په اړه لادمخه قضاوت ونه کړي او ورسره متناقض نه وي. د هغوي نظرونه او اندیښنې د هغوي د حقوقي استازو لخوا وړاندو کیدلی شي.

په هغه قضایي پریکړې کې چې په ۱۱م جولای ۲۰۰۸ کې اجرا شوی، د استیناف خونې متضررینو ته حق ورکړ ترڅو د تورن شخص د مجرمیت او بی ګناهۍ په اړه شواهد وړاندې کړي او د شواهدو د قبولیت او مطابقت ننګونه وکړي، که څه هم دا حق په عمده ډول د قضیې د خواو پورې اړه لري، یعنې څارنوال او مدافع وکیل. دا حق مشروط پر سختو شرایطو دی، یعنې د دې ثابتول چې متضرر شخص د دی کار په ترسره کولو کې شخصي ګټې لري او همداراز د عادلانه محاکمې د اړتیاوو او د مدافعې د حقونو سره د دی غوښتنې سمون. همداراز حتمي دی ترڅو متضررین د افشا کولو مسئولیت مراعت کړي، د غوښتنې خبر د قضیې خواو ته ورکړي، او د ځینو اشخاصو د محافظت په اړه د محکمې احکام مراعت کړي. په پای کې، د متضرر شخص د غوښتنې مناسبوالی د قاضي د ارزونې پورې اړه لري.



## و. قضاوت او مجازات

کله چې قضيې خواوو خپل شواهد وړاندې کړل، څارنوال او مدافع وکيل ته بلنه ورکول کيږي ترڅو خپل وروستني اظهارات وړاندې کړي. مدافع وکيل تل فرصت لري ترڅو په پای کې خبرې وکړي. قاضيان ممکن متضررينو ته د تاوان د ورکولو حکم ورکړي چې پکی جبران، مالي تاوان او بيا رغونه شامل دي. پدې ډول، هغوي ممکن مستقيماً د محکوم شخص پر ضد حکم صادر کړي.

### ۶۱. مجازات څه مهال د محکمې لخوا اعلانيږي؟

د څارنوال او مدافع وکيل لخوا د رابلل شوي متضررينو او شاهدانو د خبرو له اويردو او په شواهدو له غور وروسته، قاضيان پريکړه کوي چې ايا تورن شخص مجرم دی او که بی ګناه.

مجازات په علني ډول او، هر کله چې امکان ولري، د تورن شخص، متضررينو او يا هم د هغوي د قانوني استازو په حضور کې، که چيرې په قضايي بهير کې يی برخه اخيستي وي، اعلانيږي.

### ۶۲. کومې جزاګانې د محکمې لخوا نافذيدلی شي؟

قاضيان به ممکن د حبس جزا تحميل کړي چې ورسره نقدي جرمانه يا د هغه عايد، ملکيت او شتمنيو ضبط چې په مستقيم او غير مستقيم ډول د ترسره شوي جرم څخه ترلاسه شوی وي اضافه کيدلی شي. محکمه د اعدام جزا نه شي تحميلولی. اعظمي حد ۳۰ کاله حبس دی. که څه هم، په سنګينو قضيو کې، محکمه ممکن عمري حبس تحميل کړي.

### ۶۳. د جزا موده په کوم ځای کې سرته رسريږي؟

محکوم اشخاص خپل د حبس موده پداسې يو هيواد کې سرته رسوي چې د محکمې لخوا د داسې هيوادونو د ليست څخه ځانګړی کيږي چې محکمې ته يی ليلوالتيا ښودلې ترڅو محکوم اشخاص ومني.

د حبس شرايط د تطبيق کونکي هيواد د قوانينو لخوا تنظيميږي او لازمي دی ترڅو د بنديانو سره د چلند د تنظيم لپاره د نړيوال تړون د معيارونو سره سمون ولري. دا شرايط به د هغو شرايطو څخه ډير يا کم مساعد نه وي چې په نافذونکي هيواد کې د ورته جرمونو د محکومينو لپاره موجود دي.

## ز. استيناف او بياکتنه

### ۶۴. څه وخت د يوې پريکړې په اړه د استيناف غوښتنه کيدلی شي؟

د قضيې هره خوا کولی شي ترڅو د محاکمې څخه د مخکې او يا هم د محاکمې د خوني د پريکړې پرضد د استيناف غوښتنه وکړي. څارنوال کولی شي ترڅو په لاندی دلايلود محکوميت او يا براعت په اړه د استيناف غوښتنه وکړي: د طرزالعمل اړوند تيروتنه، د حقايقو او يا هم د قانون اړوند تيروتنه.

محکوم شخص يا څارنوال همداراز کولی شي په نورو دلايلو هم د استيناف غوښتنه وکړي چې د قضايي بهير يا پريکړې په انصاف يا اعتبار اغيزه کوي، په ځانګړي ډول د جرم او جزا ترمنځ د تناسب د نشوالي په دليل.

د متضررينو، د محکوم شخص او همداراز د هغو ملکيتونو د ريښتني خاوندانو قانوني استازي چې م متضررينو ته د تاوان د ورکولو حکم پرې منفي اغيزه کړی، کولی شي ترڅو د داسې يو حکم پرضد د استيناف غوښتنه وکړي.

د استیناف خونه کولی شي ترڅو پریکړه یا محکومیت واړوي، تعدیل یې کړي او یا هم د محکمې د بلې خونې په حضور کې د نوي محاکمې حکم صادر کړي.

### ۶۵. ایا محکوم شخص د پاتې استیناف په لړ کې په بند کې پاتې کیږي؟

پرته له دې چې د محاکمې د خونې لخوا په بل ډول حکم شوی وي، محکوم شخص د پاتې استیناف په لړ کې په بند کې پاتې کیږي. که څه هم، په عمومي ډول هغه مهال چې د یو محکوم شخص د بند موده د ورکړل شوي حبس له مودې څخه ډیر شي، شخص ازادیږي. سربیره پردې، د براعت په صورت کې، پرته له دې چې اشتثنائي حالات موجود وي، شخص سمدلاسه ازادیږي.


### ۶۶.څه مهال د یوې پریکړې بیا کتنه ترسره کیدلی شي؟

محکوم شخص یا هم ځارنوال د محکومیت د وروستي پریکړې یام هم د جزا د بیا کتنې لپاره په لاندې حالاتو کې د استیناف د خونې څخه غوښتنه کولی شي:

- نوی او مهم شواهد موندل شوي وي؛
- نوی څرګند شوی وسي چې قاطع شواهد کوم چې په محاکمې کې په پام کې نیول شوي و او د محکومیت سره یې تړاو درلود، غلط، جعلي او یا باطل وو؛
- یو یا ډیرو قاضیان د داسې یو ناوړه عمل او یا د دندې څخه د جدي سرغړونې مرتکب شوی وي چې د کافي جدیت په سبب د روم د اساسنامې مطابق د قاضي یا قاضیانو عزل توجیه کړي؛

### ۶۷. که چیرې یو شخص د غیر قانوني نیولو یا توقیف قرباني شي څه پیښیږي؟

هر هغه څوک چې د غیر قانوني نیولو یا توقیف قرباني شي د تاوان د اخیستلو لپاره د تطبیق وړ حق لري. که چیرې د عدالت څرګند او جدي غلط تطبیق په قاطع ډول وښودل شي، محکمه کولی شي تاوان ورکړي.



## ۵. د متضررينو ګډون

### ۶۸. د متضرر او شاهد ترمنځ څه توپير دی؟
متضرر يو داسې شخص دی چې د نړيوالې جنايي محکمې تر قضايي واک لاندې د يو جرم د ارتکاب په پايله کې ورته زيان رسيدلی وي. د روم اساسنامه دا باوري کوي تر څو متضررينو ته يو شمير حقونه وقف شي، چې پکې تر ټولو مخکښ د څارنوال او مدافع څخه په خپلواک ډول په قضايي بهير کې ګډون دی. متضررين حق لري ترڅو په محکمه کې د خپلو انديښنو او شخصي ګټو د وړاندې کولو لپاره قانوني استازي ولري.

شاهد داسې يو شخص دی چې د محکمې په حضور کې ګواهي ورکوي، د شواهدو په ډول يو بيان ورکوي، کوم چې ډير وختونه د څارنوال يا مدافع وکيل لخوا وړاندې کيږي.

### ۶۹. د نړيوالې جنايي محکمې په حضور کې څوک "متضرر" بلل کيږي؟
متضرر يو داسې شخص دی چې د نړيوالې جنايي محکمې تر قضايي واک لاندې د هر جرم د ارتکاب په پايله کې ورته زيان رسيدلی وي. همداراز ممکن دی سازمانونه او موئسسات متضررين وي چې هغو ملکيتونو ته يې زيان رسيدلي وي چې د مذهبي، تعليمي، هنري، علمي او يا هم خيريه موخو لپاره وقف شوي وي.

د نړيوالې جنايي محکمې قاضيان د هغو زيانونو ډولونه تثبيتوي چې لازمه ده په پام کې ونيول شي، د بيلګې په توګه ځاني زيان، رواني زيان، کله چې د يو شخص ذهن د هغه څه پواسطه زيانمن شوی وي چې هغه تجربه کړی او يا يې هم شاهد وو، يا مادي زيان چې پکې د توکو يا ملکيت له لاسه ورکول يا زيانمن کيدل شامل دي.

### ۷۰. د نړيوالې جنايي محکمې په حضور کې متضررين څه حقوق لري؟
د نړيوالې جنايي محکمې په حضور کې متضررين داسې حقوق لري چې هيڅکله د يوې نړيولې جنايي محکمې په حضور کې چاته ندي ورکړل شوي. ممکن دی ترڅو متضررين د نړيوالې جنايي محکمې په قضايي بهير کې له مختلفو لارو ګډون وکړي:

- متضررين کولی شي د څارنوال دفتر ته معلومات وليږي او له دفتر څخه يې غوښتنه وکړي ترڅو پلټنې پيل کړي؛
- د محاکمې په ترڅ کې، که چيرې يو متضررد مدافع وکيل يا څارنوال لپاره او يا هم په قضايي بهير کې د نورو ګډون کونکو متضررينو لپاره د شاهد په حيث وبلل شي، هغه کولی شي پخپله خوښه د محکمې په حضور کې ګواهي ورکړي؛
- متضررين همداراز حق لري ترڅو د يو قانوني استازي له طريقه په قضايي بهير کې برخه واخلي؛ ممکن دی ترڅو متضررين خپل نظرونه او انديښنې د قضايي بهير په ترڅ کې قاضيانو ته وړاندې کړي؛ داسې ګډون اختياري دی او متضررينو ته د دی توان ورکوي ترڅو د څارنوال او مدافع وکيل څخه په خپلواک ډول نظر څرګند کړي او ورته فرصت ورکوي ترڅو خپلې انديښنې او ګټې پخپله وړاندې کړي؛
- په ځينو حالاتو کې، په قضايي بهير کې ګډون کونکي متضررين کولی شي د تورن شخص د مجرميت يا بې ګناهۍ په اړه شواهد وړاندې کړي؛ دوي همداراز کولی شي د قضيې د خواوو لخوا د وړاندې شوي شواهدو د منلو او يا د په ځای توب ننګونه وکړي؛
- په پای کې، متضررين د ور رسيدلي زيان لپاره د تاوان غوښنته کولی شي.

**۷۱. متضررين څرنګه په قضايي بهير کې ګډون کولی شي؟**

که چیرې محکمه یی مناسبه وبولي، متضررین کولی شي خپل نظریات د قضايي بهير په مختلفو پړاونو کې په مستقیم ډول قاضیانو ته وړاندې کړي. داسي ګډون په عمومي ډول د قانوني استازو (یعنی، وکیل) لخوا ترسره کیږي ځوک چې د هغوي نظرونه او اندیښنی محکمې ته وړاندې کوي، ځکه چې جنایی قضايي بهیر ډیر پیچلی دی.

متضررینو ته د ګډون د اسانتیا په منظور، دی ته اړتیا ده ترڅو هغوي د ګډون لپاره د غوښتنې فورمه ډکه کړي. متضررین کولی شي د ګډون لپاره د غوښتنې د فورمی یوه کاپي د محکمې د ویب پاڼې او یا د هاګ په ښار کې د متضررینو د ګډون او تاوان دڅانګې څخه ترلاسه کړي. لازمه ده ترڅو فورمی د فکس، ایمیل او یا پوست له لارې د لاندې معلوماتو څخه په کار اخیستنې، د هاګ په ښار کې د متضررینو او تاوان څانګې ته ولیږل شي.

هغه متضررین چې غواړي د فورمی په ډکولو او لیږلو کې ورسره مرسته وشي کولی شي د همدې څانګې سره اړیکه ونیسي.

**د هاګ په ښار کې د متضررینو د ګډون او تاوان دڅانګې سره په لاندې ډول اړیکه نیول کیدی شي:**

**نړیواله جنایی محکمه**
**د متضررینو د ګډون او تاوان څانګه**
پوست بکس نمبر ۲۵۰۰ CM، د هاګ ښار
هالند
فکس: +31(0) 70 515 9100
ایمیل: vprsapplications@icc-cpi.int

P.O. Box 19519
2500 CM, The Hague
The Netherlands
**Fax:** +31 (0) 70 515 9100
**Email:** vprsapplications@icc-cpi.int

**۷۲. ایا په یو وضیعت کې ټول متضررین کولی شي په قضايي بهیر کې ګډون وکړي؟**

قاضیان هر غوښتنلیک په بیل ډول ګوري او پریکړه کوي چې ایا یو عارض د نړیوالې جنایی محکمې په حضور کې د ګډون مستحق دی او که نه او په کومو پړاونو کې.

**۷۳. ایا لازمه ده ترڅو متضررین د هاګ په ښار کې د محکمې مقر ته سفر وکړي؟**

په عمومي ډول، متضررين مجبور ندي ترڅو د محکمې مقر ته سفر وکړي، که چیرې هغوي و نه غواړي دا کار ترسره کړي. قانوني استازي یی د هغوي نظرونه او اندیښنی محکمې ته وړاندې کوي.

## ۷۴. متضررین څرنګه قانوني استازی موندلی شي؟

متضررین په ازاد ډول قانوني استازي ټاکلی شي، پدی شرط چې استازی د اړینو وړتیاوو خاوند وي: لازمه ده ترڅو هغه د قاضي، څارنوال یا وکیل په حیث په جنایی قضایي برخه کې د لسو کالو کاري تجربه ولري او کم تر کمه د محکمې په یوه رسمي ژبه حاکمیت ولري (انګریزي یا فرانسوي). د نړیوالې جنایی محکمې د ثبت دفتر د وړتیا لرونکو وکیلانو د یو لیست د برابرولو په وسیله د متضررینو سره د قانوني استازي په موندلو کې مرسته کوي. په محکمه کې، د متضررینو لپاره د عامه مشاور دفتر موجود دی کوم چې د متضررینو استازیتون کولی شي او هغوي او قانوني استازو سره یې حقوقي مرستې کوي.

که چیرې د متضررینو تعداد ډیر وي، ممکن قاضي ورڅخه غوښتنه وکړي ترڅو یو یا ډیر ګډ قانوني استازي وټاکي. دی ته ګډ قانوني استازیتوب ویل کیږي او موخه یې د اغیزمن قضایي بهیر یقیني کول دی.

## ۷۵. که چیرې متضررین د قانوني استازي وس ونه لري څه پیښیږي؟

که څه هم محکمه د حقوقي مرستې لپاره محدود منابع لري، ممکن دی څه نا څه مالي مرسته وکړي. د متضررینو لپاره د عامه مشاور دفتر همداراز کولی شي ترڅو متضررینو سره په وړیا ډول حقوقي مسرته وکړي.

## ۷۶. د متضررینو لپاره د عامه مشاور د دفتر دنده څه ده؟

د متضررینو لپاره د عامه مشاور دفتر متضررینو او د هغوي حقوقي استازو ته د قضایي بهیر په ټولو پړاونو کې ملاتړ او مرسته برابروي ترڅو د هغوي اغیزمن ګډون او د حقوقو ساتنه یقیني کړي.

د متضررینو لپاره د عامه مشاور دفتر یوازې له اداري اړخه د ثبت د دفتر تر سیوری لاندې دی، مګر په بشپړ ډول د یو خپلواک دفتر په حیث کار کوي.

## ۷۷. ایا محکمه د هغو متضررینو حفاظت کوي چې په قضایي بهیر کې برخه اخلي؟

د ثبت په دفتر کې د متضررینو او شاهدانو څانګه کولی شي محکمې ته د حاضریدونکو متضررینو او نورو هغو خلکو د امنیت د انتظام په اړه چې د شاهدانو د ګواهي ورکولو په پایله کې د خطر سره مخ وي، محکمې ته د مناسب محافظتي اقداماتو په اړه مناسبه مشوروه ورکړي. داڅانګه د پورته ذکر شوي اشخاصو لپاره اړین محافظتي اقدامات ترسره کوي.

د ساحوي کار په ترڅ کې، اړین دی ترڅو د محکمې ټولې برخې اغیزمن کار مراعت کړي او د خپل او د هغو اشخاصو امنیت یقیني کړي چې ورسره مخامخ کیږي. په محافظتي اقداماتو کې ممکن د بیلګې په توګه، د هغو متضررینو لپاره محرمیت چې په قضایي بهیر کې برخه اخلي، د بدل نوم استعمال، د اسنادو اصلاح یا هم د افشا کولو ممانعت او د صوتي او تصویري تخنیک استعمال شامل وي چې د هغو اشخاصو شهرت پټ کړي کوم چې محکمې ته حاضریږي.

## ۷۸. د محاکمې په پای کې، متضررینو ته د تاوان په اړه قاضیان ممکن کومې پریکړې وکړي؟

د محاکمې په پای کې، د محاکمې خونه ممکن په محکوم شخص حکم وکړي ترڅو د هغو جرمونو متضررینو ته تاوان ورکړي چې په اړه یې مجرم پیژندل شوی. په تاوان کې ممکن مالي تاوان، د ملکیت ورستنول، بیارغونه او سمبولیک اقدامات لکه د بخښنې غوښتنه او یا هم یادګارونه شامل وي.

محکمه به ممکن په انفرادي او یا هم ډله ایز ډول تاوا اعطا کړي، هر یو چې د محکمې په نظر په یوه ځانګړې قضیه کې د متضررینو لپاره تر ټولو مناسب وي. د ډله ایز تاوان یوه ګټه دا ده چې بشپړ ټولنې ته هوساینه ورکوي او د غړو سره یې مرسته کوي ترڅو خپل ژوند بیا ورغوي، د بیلګې په توګه د متضررینو د خدماتو د مرکز جوړول او یا هم د سمبولیکو اقداماتو ترسره کول. سربېره پردې، د روم د اساسنامې غړې هیوادونو د نړیوالې جنایي محکمې تر قضایي واک لاندې د جرمونو د متضررینو او د هغوي د کورنیو  لپاره یو امانتي صندوق تاسیس کړی ترڅو په هغه صورت کې د تاوان لپاره د محکمې حکم مراعت کړي چې محکوم شخص د دی کار د ترسره کولو لپاره کافي منابع ونه لري.

### ۷۹. د متضررینو لپاره د امانتي صندوق دنده څه ده؟

د روم اساسنامې دوه خپلواکه موسسې رامینځته کړې: نړیواله جنایي محکمه او د متضررینو لپاره امانتي صندوق.

پداسې حال کې چې ناشونې ده ترڅو د نسل وژنې، جنګي جرمونو، د بشریت ضد جرمونو او د یرغل د جرم په سبب رسیدلي زیانونه په بشپړ ډول له مینځه یوړل شي، د پاتې خلکو سره، په ځانګړې ډول د هغوي په مینځ کې تر ټولو زیانمنیدونکو خلکو سره د هغوي د ژوند د بیارغولو، او د ټولنې د فعالو غړو په حیث دخپل د عزت او وقار د بیرته لاسته راوړلو په برخه کې مرسته ممکن دی.

د متضررینو لپاره امانتي صندوق اشخاص، منابع لرونکي موسسات او قدرمند خلک د متضررینو او د هغوي د ټولنو د ګټې لپاره هڅوي. دغه صندوق د متضررینو د فیزیکي، مادي او رواني اړتیاو د مرفوع کولو لپاره اغیزمنې پروژی تمویل یا چمتو کوي. دا همدارز هغه مهال چې د محکمې لخوا ورځخه غوښته وشي، په مستقیم ډول فعالیتونه پرمخ بیایی.

د متضررینو لپاره امانتي صندوق پرته له دې چې د نړیوالې جنایي محکمې لخوا څوک محکوم شي، د جرمونو د متضررینو په ګټه کار کولی شي. دا صندوق د محکمې سره په ګډه کار کوي ترڅو په روان قضایي بهیر کې د لاس وهنې څخه مخنیوی وشي.

### ۸۰. ایا متضررین دی ته اړ دي ترڅو تاوان ته د مستحق کیدو څخه مخکې لومړی په قضایي بهیر کې ګډون وکړي؟

نه. داسې یو متضرر شخص چې په قضایي بهیر کې یې برخه نه وي اخیستې کولی شي د تاوان لپاره غوښتنلیک ورکړي. دا دواړه یو له بل څخه خپلواکې غوښتنې دي. محکمه حتا کولی شي پخپل ابتکار د تاوان د ورکولو پریکړه وکړي.

## ۶. د شاهدانو محافظت

### ۸۱. څوک کولی شي شاهد وي؟
د څارنوال دفتر، د مدافع وکیل او یا په قضایي بهیر کې نور ګډون کونکي متضررین کولی شي د متخصصو اشخاصو، متضررینو او یا هم د هر داسې شخص څخه چې د جرمونو شاهد وو غوښتنه وکړي ترڅو د محکمې په حضور کې ګواهي ورکړي.

### ۸۲. د څارنوال دفتر د شاهدانو د انتخاب لپاره کوم معیارونه کاروي؟
د څارنوال دفتر شاهدان د هغوي د ګواهۍ د په ځای توب، پر هغوي باور او د هغوي د اعتبار پر بنسټ انتخابوي.

### ۸۳. ایا شاهدان ګواهي ورکولو ته مجبورېږي؟
نه. محکمه یو شاهد دی ته نه مجبوروي ترڅو د خپلې خوښې پرته د محکمې په حضور کې ګواهي ورکړي.

### ۸۴. محمه څرنګه پوهېږي چې شاهدان درواغ نه وایي؟
د غلط ګواهۍ د مخنیوي لپاره مختلف تدابیر نیول شوي دي. د ګواهي ورکولو څخه مخکې، هر شاهد د رښتیا ویلو تعهد کوي. قاضیان صلاحیت لري چې په ازاد ډول ټولو سپارل شوي شواهدو په ځای توب او دمنل کیدو قابلیت وڅیړي.

که چیرې یو شاهد غلطه شاهدي ورکړي، محکمه کولی شي هغه/هغی ته د حبس جزا، چې د پنځو کالو څخه زیات نه وي واوروي او یا هم پرې نقدي جرمانه تحمیل کړي.

### ۸۵. د هغو شاهدانو سره چې په محکمې کې حاضرېږي څه ډول مرسته کیږي؟
هغه شاهدانو ته چې په محکمې کې حاضریږي معلومات او لارښونه ورکول کیږي. په همدې موخه، د متضررینو او شاهدانو د شعبې د مرستې ټیم داسې خدمات وړاندې کوي چې پکی رواني مرسته، په بحراني حالت کې مینځګړتوب او د اړتیا په صورت کې طبي پاملرنې ته لاسرسی شامل دي.

د متضررینو او شاهدانو څانګه همداراز د "آشنا کولو" په نوم د یو بهیر په ترڅ کې ټول شاهدان د محکمې په حضور کې د ګواهۍ ورکولو لپاره چمتو کوي. پدغه بهیر کې، د محکمې خونه او د محاکمې طرزالعمل شاهدوانو ته د هغوي د ګواهۍ څخه مخکې ښودل کیږي. زیات شمیر شاهدان به هیڅکله مخکې د محکمې خونې ته نه وي تللي او ممکن دا ورته ویرونکی وي. دا کولی شي د هغوي په سلامتۍ او ګواهۍ اغیزه وکړي، او د آشنا کیدو د بهیر موخه د دې څخه مخنیوی دی. د آشنا کیدو بهیر د ګواهۍ په محتوی کومه اغیزه نه لري، ځکه چې پدغه بهیر کې د شواهدو په اړه بحث نه کیږي.

### ۸۶. د هغو شاهدانو لپاره چې د محکمې په حضور کې ګواهي ورکوي کوم حفاظتي انتظامات موجود دي؟
محکمه د هغو شاهدانو لپاره چې په محکمې کې حاضریږي او د نورو هغو اشخاصو لپاره چې د یو شاهد د ګواهۍ په سبب د خطر سره مخ وي، یو شمیر حفاظتي انتظامات لري. د محکمې د حفاظت د نظام بنسټ غوره کار دی چې موخوه یې د ټولنې او د عامه وګړو څخه د محکمې سره د یو شاهد د اړیکې پټول دی. دا د ټولو هغو اشخاصو لخوا کارول کیږي چې د شاهدانو سره مخامخ کیږي.

د محافظت عملیاتي انتظام د شاهد د اوسیدو په ځای کې تطبیق کیدلی شي، د بیلګې په توګه د لومړني غبرګون نظام چې د بیړنی غبرګون ۲۴ ساعته نظام دی، محکمې ته د دی وړتیا ورکوي ترڅو، که چیرې ممکن وي، په هغه صورت کې چې شاهدان په نښه شي او یا د په نښه کیدو څخه په ډار کې وي، هغوي یو محفوظ ځای ته ولیږدوي. په نورو عملیاتي محافظتي تدابیرو کې د محرمیت او د پوښښ لپاره د یوې کیسی د اهمیت په اړه د شاهد روزنه او د یو بیړنی بدیل پلان په اړه هوکړه شامل دي.

محکمه همداراز د طرزالعمل اړوند محافظتي تدابیر تطبیق کولی شي. پدی تدابیرو کې د مخ یا اواز د بڼې بدلون او د جعلي نوم استعمال شامل دي. د ځورول شوي شاهدانو ، ماشوم، د زیات عمر لرونکی یو شخص او یا د جنسي تاوتریخوالي د یو قرباني لپاره محکمه کولی شي د ځانګړو تدابیرو حکم ورکړي. پدې کې د شاهد د ګواهۍ پر مهال د یو روانپوه یا د کورنی د غړي موجودیت او یا د شاهد او تورن شخص ترمنځ د سترګو له طریقه د اړیکې د مخنیوي په منظور د پردی استعمال شامل دي.

د تدابیرو وروستی هڅه د نړیوالې جنایی محکمې د محافظت په پروګرام کې داخلیدل دی چې له دې لارې شاهد او نږدی کورنۍ یی د ګواښ له ځای څخه بل ځای ته لیږدول کیږي. دا د محافظت یوه اغیزمنه طریقه ده، مګر په بی ځایه کیدونکي اشخاصو د خورا زیات بوج په سبب، بل ځای ته لیږد یواځې وروستی او د مطلق اړتیا په صورت کې یوه هڅه ده.

محافظتي اقدامات په عادلانه محاکمې کومه اغیزه نه لري. دا یواځې د شاهدانو د امنیت او هوساینې لپاره استعمالیږي. دا اقدامات د څارنوال او مدافع وکیل لپاره په مساوي ډول د تطبیق وړ دي. ټولې خواوې د محرمیت او د محافظتي اقداماتو په اړه مسئول دي، مګر د محافظتي اقداماتو د تطبیق په صورت کې هم د شاهدانو څخه پلټنه کیدلی شي.


Cour
Pénale
Internationale
International
Criminal
Court
Sélection de
documents
juridiques de
référence de la
Cour pénale
internationale

## ۷. د محکمې په اړه نور معلومات

### ۸۷. د نړیوالې جنایي محکمې په اړه نور معلومات له کومه ځایه موندلی شم؟

د محکمې په اړه نور معلموات یې په ویب پاڼې کې موندل کیدی شي. پدغه ویب پاڼې کې حقوقي کتابونه، د محکمې پریکړې او اسناد، د محاکمو مهال ویش، د وضیعتونو او په نړیوالې جنایي محکمې کې د قضیو او همداراز د محکمې د اُرګانونو په اړه معلومات، د مطبوعاتو د استازو لپاره مطبوعاتي خپروني، کاري فرصتونه، د نړیوالې جنایي محکمې څخه د مسلکي اشخاصو د لیدنې پروګرام او د محکمې په اړه نور معلومات شامل دي.

د نړیوالې جنایي محکمې د رسمي ویب پاڼې له طریقه په ژوندی بڼه د خپرونو سربیره، چې د کارونکو سره مرسته کوي ترڅو محاکمې په مستقیم ډول تعقیب کړي، محکمې همداراز په مارچ ۲۰۱۰ کې خپل د یوټیوب رسمي کانال هم پیل کړ: (www.youtube.com/user/IntCriminalCourt) ترڅو محکمه او د محکمې فعالیتونه عامه وګړو ته لا نږدی کړي. د نورو سربیره، تصویري کانال لیدونکو ته فرصت ورکوي ترڅو د محکمې مختلفې قضیې په ګڼ شمیر ژبو کې د قضایي بهیر د لنډیزونو د اونیزو خپرونو له طریقه تعقیب کړي چې "د محکمې په خونه کې" نومیږي. نور غږیز او تصویري پروګرامونه هم د نړیوالې جنایي محکمې د یوټیوب په کانال کې موجود دي، چې پکی د عامه پوهاوي پروګرامونه او د فعالیتونو او پیښو لنډیزونه شامل دي.

د نړیوالې جنایي محکمې د یوټیوب د کانال د پیل څخه وروسته، محکمې د ټویټر یو حساب هم خلاص کړ ترڅو اړوند خبرونه او وروستي معلومات په اصل وخت کې شریک کړي: د ټولنیزو مطبوعاتو د دغه سهولت استعمال په روښانه او پراخ ډول معلوماتو ته د لاسرسي په برخه کې د محکمې د هڅو یوه برخه ده.

### ۸۸. معلومات په کومو ژبو موجود دي؟

په عمومي ډول، د نړیوالې جنایي محکمې په ویب پاڼې کې موجود معلومات په انګریزی او فرانسوي ژبو دي، کوم چې د محکمې کاري ژبې دي. که چیرې د یو وضیعت اړتیا وي، اسناد همداراز په عربي ژبه هم موجود دي. د د محکمې په ویب پاڼې کې یو شمیر اړین اسناد په عربی، چینایی، روسي او هسپانه ایی ژبو هم موجود دي، چې د انګریزي او فرانسوي سره یوځای ټول د محکمې رسمي ژبې دي.

### ۸۹. زه څرنګه کولی شم ترڅو د معلوماتو د ترلاسه کولو او یا هم په محاکمې کې د ګډون لپاره د نړیوالې جنایي محکمې څخه لیدنه وکړم؟

نړیواله جنایي محکمه د هاګ په ښار کې پخپل مقر کې د ټولو داسې خلکو هرکلی کوي چې د محکمې د جوړښت، فعیالیتونو او کار سره علاقه ولري.

**د محکمې په اړه په معلوماتي ناسته کې ګډون:**
د هغو اشخاص او ډلو څخه چې هيله لري ترڅو د محکمې په اړه په معلوماتي ناسته کې د ګډون و کړي غوښتنه کيږي ترڅو د غوښتنليک اړونده فورمه ډکه کړي، چې د محکمې په ويب پاڼې کې موجود دی (www.icc-cpi.int). لازمه ده ترڅو غوښتنليکونه د ډلو لپاره دوه مياشتې وړاندې او د شخص لخوا د ليدنې لپاره يوه مياشت وړاندې د ايميل له طريقه visits@icc-cpi.int ته وليږل شي.

**په محاکمې کې ګډون**
پرته له دې چې د محکمې خونه د پټې ناستې حکم ورکړي، د نړيوالې جنايي محکمې ناستې په عمومي ډول د عامه وګړو پرمخ خلاص وي. علاقه مندو اشخاصو ته بلنه ورکول کيږي ترڅو د محکمې دروازې ته ولاړشي (له وړاندې څخه د کومې فورمې د ډکولو اړتيا نشته). هرڅوک چې د محکمې ودانۍ ته داخليږي اړ دي ترڅو د امنيتي پلټنو څخه تير شي او د پيژندنې اعتباري سند وړاندې کړي (پاسپورت، تذکره او يا هم د موټر چلونې جواز).

سربيره پردې، ټولې علني ناستې د نيم ساعت ځنډ وروسته د محکمې په ويب پاڼې کې خپريږي. دوي ته پدې نښه لاسرسي موندل کيدی شي www.icc-cpi.int

د لازياتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د محاکمو مهال ويش ته مراجعه وکړئ. همداراز په ياد ولرئ چې د عامه نظم په منظور، د شپاړسو کالو څخه کم عمره کوچنيانو ته د محکمې په ودانۍ کې اجازه نشته.

**موږ سره اړيکه:**

**د عامه معلوماتو او اسنادو څانګه**
د ثبت دفتر، نړيواله جنايي محکمه
مانويخ ۱۷۴
AB۲۵۱۶، د هاګ ښار
هالند
تيلفون:+31 (0) 70 515 9767
فکس:+31 (0) 70 515 8567
ايميل: PublicAffairs.Unit@icc-cpi.int

**Public Information and Documentation Section**
Registry, International Criminal Court
The Netherlands
Telephone: +31 (0) 70 515 9767
Fax: +31 (0) 70 515 8567
Email address: PublicAffairs.Unit@icc-cpi.int